م. احمد زیار

# پښتو او پښتانه

# د ژبپوهنې په رڼا کې

## (له ساکي مخینې سره)



د یوناني سکندر باختري میرمن روښانه Roxana

یم څو سپیا که ستانه نه یم

شپږې مې وګړې زلې وېښې غوړ خوړینه

www.esalat.org

تلوالي (اتحادي) نوم و چې په ۶-۴ ز پېړيو کې د توبول (Tobol) او والګا (Volga) د سيندونو تر منځه مېشته وو. او سورمات هغه کوچي ټبر و چې د سکيتيانو (ساکانو) خپلوان وو او د سرمات د تلوالي غړي او د اورال او والګا په شاوخوا دښتو کې اوسېدل (د دوست هماغه اثر ۲۵ مخ) پايليك - د شوروی انسايكلو پيډي قاموس پر بنسټ).

اروا ښاد دوست د مومند و خوا ته نومانده غر "شلمان" او سليمانخېل ټبر هم له سليمان سره هماري بولي. خو ښايي د وزيرستان "شوال" او داسې نور ور سره هم اړوندي ولري. (دوست پاسنی کتاب ۲۷ مخ) دا هم په زړه پورې ده چې د پکتيکا ولايت سليمانخيل بيا د سليمان غره په لمنو کې استوګن دي او دغه راز د حدود العالم "سول" (تری ۶۶ مخ) هم دلته بې اړيکي نه بريښي چې د پکتيا خوا ته يې ټيکاو درلود:

"د سول په غره کې يو اباد کلی دی او افغانان پکې هست دي" په ۱۱۴ مخ کې بيا دا هم وايي: "چې دا په د اوسني شمل د سيمې يوه ابادي وي چې اړوند سيند يې هم شمل نومېږي".

## ۵-۷: د افغانستان او پښتونخوا نومونه:

**۵-۷-۱**: هماغسې چې "پښتون" د نورو له خوا "افغان" بلل شوی، دغسې يې هېواد "پښتونخوا" هم د نورو له خوا "افغانستان" بلل شوی دی، نور څرمه نومونه يې، لکه روه او داسې نور خو د تاريخ په يوه ټاکلي پېر کې د هنديانو له خوا را منځته شوي او بيرته له منځه تللي دي چې له مخه پرې خبرې وشوې، مګر "افغانستان" له هماغه پيله تر اوسه په ټول زور و ځواك را پاتې دی. په تېره د نوي افغان دولت له بنسټ اېښوونې (۱۷۴۷ ز) را هيسې چې ګرد سره يې په يو نوي او پراخ جاج پر له پسې او ځارتيا (شهرت) او برمتيا موندلې او په دې توګه يې اړ پښتني نوم "پښتونخوا" هماغو مره تر سيوري لاندې راغلی، لکه پخپله "پښتون" چې د "افغان" تر اغېز



www.esalat.org

لاندې تتوالی موندلی دی. څکه پښتون تر بل هر هېواد وال د خپل ازاد، ملي، هېوادني وکړ (هویت) د ښوونې لپاره تر پښتون اوپښتونخوا، افغان او افغانستان ته لومړی حق او ارزښت ورکوي او په دې ویاړي چې په هغه ورستیو دوو نومونو په نړیواله تولنه کې خپل دریخ جوت او څرګند وساتي. ان تر دې چې تر را تپلې دهورند کرښې اخوا پښتانه هم په سر کاري پېژند پاڼوکې خپل وکړ و بکړ "افغان" لیکي او د اړوند ایالت لپاره د دوو وړاندې کړیو نومونو "پښتونستان" او "پښتونخوا" درېیم بلونیج (التیرناتیف) نوم "افغانیه" هم لري و دېر پلویان لري، "پتهانستان" بیا ښایي د پتهان له مخې پنجابیانو را منځته کړی وي او "روهېستان" هم پښتنو شاعرانو چې یو تازه بېلګه یې هم "پښتیانا" ده. "پښتونخوا" او "افغانستان" د پښتنو او افغانانو د هېوادني نومونو په توګه پخپله د پښتنو او افغان هومره مخینه نه لري. تو که د هېرودتس (۴۸۶-۴۲۶م ز) پکتویس او پکتویکې او یا هم د زړې هندي (سانسکریت) پکهت او پکتاس له ژبپوهنیز. یا په بله وینا اریاني فونولوجیکي اوښتون له پلوه له پښتون او پښتونخوا سره سمون درلودی وای، بیا نو د لاسن، جکس یا ګریرسن او بیا زموږ د خپلو کورنیو پوهانو (استاد حبیبي، دوکتور تړي، کهزاد، دوست....) د پښتونخوا مخینه هم همدومره پر شا تلای شوه، خو له بده مرغه، لکه څنګه چې په تېر او همدې څېرکي او نورو برخو کې پرې رڼا اچول شوې، دغه مخینه زیاتېدای نه شي او البته پخپله د پښتون او پښتو دا د نوموړي št<rs اوښتون پر بنسټ ان د هېردودت تر مهاله هم زیاته پر شا تلای شي. (حبیبي، د پښتو ادبیاتو تاریخ اړونده سکالو او پټه خزانه ۲۰۷-۲۰۹، تړي، پښتانه ۵۰-۵۲،کهزاد، تاریخ افغانستان ۹۱-۹۸، دوست، پښتانه څوک دي؟ ۳۳-۳۸ مخ) له دې کبله د "افغانستان" په څېر "پښتونخوا" هم تر اسلامي پېر را وروسته پلتمل په کار دي.

ACKU



www.esalat.org

تر کوم ځایه چې د استاد حبیبي ۹تلوسه ۱۷ مخ) او دوکتور تړي (۲۲۱-۲۳۱ مخ) له څېړنو څخه جوتېږي، د "افغانستان" مخینه تر پښتونخوا څه نا څه دوې پېړۍ زیاته ده او هغه دا چې "افغانستان" لومړی ځل سیفي هروي پر (۱۳۲۱ ز کال) د هرات په تاریخنامه کې یاد کړی او "پښتونخوا" رومبی ځل اخون درویزه ننګرهاري په خپل کتاب مخزن الاسلام (د ۱۶۰۳-۱۶۱۲ ز کلو تر منځ) کارولې ده.

۲-۷-۵: دا جوته ده چې د دواړو هېوادونو نومونو نومولي (مسماوي) تر یوه وخته څه نا څه یو راز پراختیاوې درلودلې او یو راز یې پراختیا یې پراوونه وهلي دي، خو ورو ورو د افغانستان دا، پر دې بلې له مخه شوې او پر ۱۷۴۷ ز کال له دولتي نومونې سره خپل لوړترین بشپړتیا یې پړاو ته رسېدلې ده. اوسنی را تراشل شوې بڼه یې د نولسمې پېړۍ له وروستي لسیزې را هیسې غوره کړې چې هممهال یې د ار پښتني - افغاني تاتوبي له یوې ستړې برخې سره میلونونه استوګن هم له لاسه وتلي دي. زموږ د پښتومتنپوهنې سر څېړاند زلمي هېواد مل د پوهاند تړي "پښتانه" د سریزې په وروستیو ۳-۴ مخونو کې له خپلې خانساتې لوښې سره سم زړه نازړه غوښتي، د بناغلي تړي یوه تیمه څرګندونه، د چا خبره ور سمه کړې او په دې لړ کې دا خبره چې د پښتنو او پښتونخوا نومونه تر اخون درویزه له مخه نورو پښتنو هم کښلي دي، په زغرده نه په ورګوته کوي او له هغو څخه پښتونخوا بیا د بنکارندوی په بوللـه (۵۷۱ ل)، د سلیمان ماکو په تذکره الاولیاء (۶۱۲ ل)، د شیخ کته په "لرغوني پښتانه" او د با با هوتك (۶۶۱ ل زوکړې) په شعر کې پښتانه او پښتونخوا دواړه، خو د اچې پوهاند تړي له اړوندو تذکرو (تذکره الاولیاء او پټې خزانې) څخه په خپلو تولو لیکنو څېړنو کې د اخځونو په توګه کلکه ډډه کړې نو هېواد مل هم تش د پښتون د یادونې په اړه پر ارزانې او لواني بس راوړی دی. دوکتور تړي چې



www.esalat.org

کله (۱۳۵۲ ل کال) د اوسني کتاب "پښتانه" یوه برخه د "پښتنو اجتماعي تاریخ" تر نامه لاندې د پوهنوالۍ لپاره په ادبیاتو پوهنځي کې دفاع کوله، له ورته پوهنتنو سره مخامخ شو. خو په خورا هوښیارانه توګه یې پوښتونکي غلي کړل. خو زه د "پښتانه" له لیکوال څخه په زغرده پوښتم چې ایا نوموړي تذکرې د هغو تولو ما ویلیو تا ویلیو، کیسو او افسانو هومره هم تش په یادولو نه ارزېدې یا لږ تر لږه یې یو رد هم پرې نه لوراوه؟ (۴-۳-۵)

که پوهاند تری "د پکتویس او پکتویکې" او داسې نورو شخړه ییزو او ناژبپوهنیزو سکالوو په برخه کې استاد مورګنستیرنې تر سیده او ناسیده ګوتنیوې لاندې نیسي، نو د نوموړو پښتو تذکرو او بیا پټې خزانې په برخه کې یې تش یو نوم هومره نه یادوي او بیا یې له وروستي الواک څخه هم خان نه خبروي چې پر ۱۹۶۸ کال یې د ایتالیې ختیځپوهاند الېزاندرو بوساني د غبرګون په ترڅ کې د هغې په اړه څرګند کړي و او له شل کلن زاړه الواک او ورمندانه (قضاوت) سره یې کورټ توپیر لاره. هغه په دغه نوي کتنه کې دا خبره ورنده نه ده بللې چې پټه خزانه دې استاد حبیبي یا محمد هوتک او یا بل چا له خانه را ایستلې وي، بلکې داتکل له مخې همدومره یادونه کوي چې هوتک به د یو نیم شعر نسبته مخکې وروسته کړې او یا هم هماغسې ناسمه پر لاس ورغلې وي او په پای کې یې په زغرده کټبلې دي:

پټه خزانه په رښتینه هغه کم پېښې او مغتنمه ګنجینه ده چې د پښتو ژبې او ادب یوه نه اټکلېدونکې ګرانبیه زړه پانګه یې له ورکې را ژغورلې او دا چې څومره به زړه وه، څه ویلای نه شم، خو زه پر دې باور یم چې هماغه زاړه ترین شعرونه یې را خوندي کړي دي. ("بوساني، ۲۵۹ مخ).



www.esalat.org

زه پر خپل وار دلته دستر خوشال هغه شعري بېلګه وړاندې کوم چې درې- درې نيم سوه کاله له مخه يې پکې "پښتونخوا" له څومره خوند او راکښون سره ياده کړې ده!

نوره درسته پښتونخوا پر خاى مېشته ده

خوېبو زه دې زمانې پکې منصور کړم

## ۵-۸ : خراسان (خوراسان)

۵-۸-۱: پوهاند تړې د پښتونخوا، افغانستان يا اوغانستان اوروه تر څنګه له افغان سره نور ترلي نومونه هم يادوي چې په اسلامي پېر کې له لسمې زېږدي تر شپارسمې زېږدي پېړۍ پورې بېلا بېلو ليکوالو او تاريخوالو کارولي دي، لکه : "جبال الافغانيه"، "جبال الافاغنه"، "کشور افغان"، "حد افغانيان"، "مرز افغان" او "افغان". خو په دې لړ کې د يوه بل تاريخي نامه "خراسان" يادونه هېڅ نه کوي چې تر دغو ټولو نومونو له مخه يې تر لومړي تاريخي پېر يا "آرياني پېر" را وروسته له پنځمې زېږدي پېړۍ را نيولې د نوي افغاني دولت "افغانستان" تر بنسټ ايښوونې پورې. زموږ د هېواد پر اوسنيو شمالي او سويل لويديزو سيمو سربېره يې څه نا څه د ماوراء النهر او د لويديز ايران هغه لتې هم را اخيستې چې د ابدالي ټولواکمنۍ له رغندو توکونو څخه شمېرل کېدې او د صفويانو په وخت کې ان کندهار هم په خراسان کې راته. تر مخه خو يې غزنۍ هم په خپله اوبجه کې رانغښته او په دې توګه يې داستوګنو ډېرى (اکثريت) هم پښتانه وو او داسې هم نه ده چې دغه نوم پښتنو ته نا بومه و او پخپله نومولي "خراسان" يې خپل هېواد او ټاټوبى نه دى ګڼلى. که داسې نه واى، نو دا لندۍ څنګه را زېږېدلې دي:

پر هندوستان مې ګل کرلی

پر خراسان ولاړه يم بوى يې راځينه



ACKU
www.esalat.org

د خراسان د سهار باده
پر جانان وايه د پردېسو سلامونه
خوشال خان تر هند را پورې سيمه خراسان بللې ده:
دا څو لاړې پر سرحد د هندوستان دي
نورې لاړې پر سرحد د خراسان دي

د پوهاند تږي په تول کتاب کې خراسان هسې د افشار يزدي په اړه (۲۱۱ مخ) تش يو ځل ياد شوی دی، که څه هم په نوملیک کې يې په ناسم ډول شپږ ځلي راوړی دی. دا په زه هم له ښاغلي هېواد-مل سره ومنم چې د پوهاند تږي کتاب ددی د خپلې وينا پر خلاف "دا کتاب په عمومي ډول د پخوانو متونو او د نورو د اقوالو يوه مجموعه ده" څه تنا څه شننيز "تحليلي" اړخ هم لري او هغه دا چې د ځينو اروپايي پوهانو او څېړونکيو له نظريو سره يې علمي، انتقادي چلند کړی او همدارنګه يې د پښتنو خپلو کښليو کتابو، رواياتو او ويناوو ته هم د شك په سترګه کتلي، ځينې خبرې يې ور رد کړې او په ځينو برخو کې يې د متونو د رواياتو له مقايسې کتنې کار اخيستی دی. (هېواد مل، د اروندې سريزې ۱۶ مخ) هو، تر کومه چې استاد تږي زور و زغم پر کار اچولی، خپله انتقادي ليد توګه او کره کتنه يې وړاندې کړې او ان شپږم څپرکی (فصل) يې هم "يوه تحليلي تبصره" نومولی ده.

خو د ايراني محمود افشاريزدي د اپلتو (چرنديـاتو) پر هويـهو راخيستنه بس راوړې او بيا يې د يوې کابلی ساده ګڼې "بلا کوي" تر څرګندونې وروسته ليکلې غونډلې داسې را ژباړې:
"کوم هېواد چې د افغانستان په نامه يادېږي او د ايران د شرقي سيمې په يوه برخه او د خراسان په ولايت کې جوړ شوی دی، په تاريخ کې سابقه نه لري.... او څرنګه چې يو شمېر افغاني امراوو د نولسمې پېړۍ په وروستيو وختو کې په دې سيمه باندې تسلط پيدا کړی او يو څه موده يې حکمراني پرې کړې ده، نو له دې امله دا


www.esalat.org

ځای د افغانانو دولت او وروسته افغانستان بلل شوی دی" (پښتانه ۲۱۱-۲۱۲ مخ)

تیک همدلته ورته د افشار یزدي هم دغه سپکو ورکو یوه ډېره ښه بېلګه په لاس ورکولای شوه چې اوسني ایراني "خراسان ایالت" یا "استان" د پخواني لوی خراسان د یوې کوچنۍ پاتې شونې په توګه په سترګو ور ننه باسي او بیا یې پر ۱۷۴۷ کال نوی ارث و بیرت "افغانستان" ځایناستی ور زبات کړي!

افشار یزدي له هغو سوګند خوړلو افغاني - پښتني دښمنو ژورنالیست ډوله ایراني لیکوالو څخه دی چې په ساز ماني توګه یې په خپل نامه نوموړي خپرندویه دستګاه د ورته انګرېزو لپاره له ښایسته ډېر مهال را هیسې په ایران کې پر کار اچولي او د "بېلتونپالو" افغانانو دغوتږ هوارونې خورا په زړه پورې منځۍ ګرځېدلی چې د نجیب مایل هروي یو زهرژلی اثر یې له تازه خپرونو څه ګڼل کېږي. د زیاتې ځرګندتیا لپاره، د شمشاد شپږ میاشتنۍ ۱-۲ ګڼه، د زیار لیکنه.

**۲-۸-۵:** په هره توګه زموږ خپلو تاریخوالو خراسان د افغانانو د سیاسي رغښت منځنی پېر ګڼلی او د لویدیزې اریانا په وراندې یې هم د ژبنۍ برید بندی له مخې په افغاني دولت پورې اړه درلودې ده. لکه څنګه چې پخپله خراسان Xor-āsān هم د لمر اسمان (لمر ختیځ) مانا شوې دی. دا چې له سیاسي پلوه تر زاړه او منځني ساکي (پېتل - کوشاني) پېر را وروسته دغه سیمه زیاتره د لویدیزو اریانیانو (ساسانیانو او سامانیانو) او تورکانو تر ولکې لاندې پاتې شوې، مګر له دیموګرافیکي پلوه یې له پښتنو (افغانانو) سره اروندې پوره جوته وه. د اسلامي پېر د لومړیو سیمه ییزو واکمنیو یا امارتونو (لکه هرات، سیستان، غور،...) له هغو را نیولې تر غوري او غزنوي تولواکمنیو پورې یکې د پښتني تبر ونډه له تاریخه لرې پاتې نه ده. د ابومسلم خراساني تر سر لازۍ لاندې یې په



www.esalat.org

ازادیپالو غورځنګونو کې هم همداسې درواخله چې له ۷۴۱ ز یې تر ۷۵۴ ز کاله پورې د عباسیانو په ورانډې سترکوروالکي خراساني دولت را منځته کړی وه (محمد ناصر کمال ۸ مخ). ځوان افغان تاریخپوه محمد ناصر کمال په خپل یوه تازه خپور شوي تاریخي اثر (افغانستان سر زمین اریا ، ۱۵ مخ) کې پر خراسان داسې رڼا اچوي: "د خراسان ویې تر دویمې او دریمې زېږدي پېړۍ را وروسته پیدا شو او له څلورمې تر اتلسمې زېږدي پېړۍ نژدې یو نیم زر کاله د افغانستان د هېواد نوم و...." او بیا دا لټې د خراسان اړوندې ښیې: ابیورد (د اوسني تورکمنستان یوه سیمه)، اسروشنه (د ماوراء النهر له سیمو څخه)، بخارا ، بلخ، خوارزم (د اوسني وزبکستان یوه سیمه)، سرخس (د نیشاپور او مروې تر منځ سیمه)، سمرقند (وزبکستان)، غزني، فرغانه (وزبکستان)، هرات او نور.

الفنستن (۱۵۸ مخ) وایي: "کوم نوم چې د اړوندو استوګنو له خوا پر ټول هېواد اطلاقېږي، هغه "خراسان" دی، خو څرګنده ده چې ددغه نوم کارونه سمه نه ده، ځکه یو خوا د افغانانو ګرد ټاټوبی د خراسان په بریدونو کې نه راځي او بل خوا ددغه لټې په یوه غوره برخه کې افغانان نه اوسېږي".

په هره توګه بیا هم داسې برېښي چې په شمال کې بلخ د ټول اوسني شمالي افغانستان ښکارندویي کړله او هرات او غزني دم له کابل او پکتیا او نورو شمال ختیزو او سویل ختیزو سیمو پرته نور د ټول اوسني سوېلي افغانستان را چاپېروونکې ګڼل کېدل او له همدې لامله یکې د پېړۍ پښتني ـ افغاني سیمې او اوسېدونکې رانښکېل وو. دا جلا خبره ده چې هغه مهال د پښتنو اړوندې سیمې بېزې خانخانۍ او تېر واکې څومره د مرکزي واکمنۍ لاسکتوې (تحت الاثر) وې اوتر کومې کچې یې کور واکي او خپلواکي درلوده!



ACKU
www.esalat.org